# د بنګ مسافري

پـه مسجد کې دهر وخت تر لمانځه دمازيګر اومابنام په وخت لمونځ غاړي ډير وي او ديوه‌صف په‌ځای دوه درې صفونه‌دريږي. نوی ملاچې وروسته تـربوې مياشتې دکلـي دملا پـه حيث مقرريږ ي دمازيګر تر لمانځه وروسته وعظ کوي اوخپـل دغـه وعظ دمـابنام تر لمانځه پورې اوږدو ي. دده دوعظ مهم ټکي دغه وي:

کـه څوك دمازيګر دلمانځه نـه دمابنام ترلمانځه پورې مراقـبه شواووظيفه‌يې کوله نو به ډير درانه ثوابونه وګټي اودخدای تعالی رضا به حاصله کړي - په‌تيره بيا کـه دمابنام تر لمانځه وروسته‌يې نفلونه وکړل نودهغـه دثـوابونو اوعوضونو په‌باب کـې خورا ډير تفصيلات ورکړي او حـاضر ين خوښ کړي. په دغه وخت کـې پښخوانی ملاصاحب لږ څه زړه‌سوړ ښکاره کيږي او کلـه کلـه نوي ملاته دسترګو په کونجونو په اعتراض ناك نظر وګوري اوبيا په‌سرڅادر کش کړي اوخپل شو ندان داسې وښوروي چې‌ته به وايې چې اوس

بنگ تندی ترېوکړاوسر يې کښته واچاوه او په داسې حال کې چې څنګه يې بخپه ګونه ګړوله ورته وويل چې:

زموږ اوستاسو خوداتو ته را شه نه ويله کيږي خوبيا هم شکرد ی موږ وتاسې بايد په هرحال کې شکر وکاږو - وروسته ترهغه چې د ملا (زکوات)، دملک‌ملکي د پنځ حق درکانه رکښي ، تخم ، دچرپانو بنې مې ورغځې ورکړې نو (۱۲) منه غنم ما ته پاتې شول، هغه مې ورمه ورځ را په شاکړل او په کور کې مې واچول . پسه پوشي چې مې ضعيت سم د ی هغه د د ی چې ستړکـلل مې پوروړي دستي له لاسه نه يسي اوښي را څخه نه غواړي . څکه چې هغو دوو کسوچې خوړا په اورسوی وم اوپور يې هم نژشانه څنډيد لی د ی په دغو وختوکې لږ څــه مال کور ملک نـه وړی د ی اوتـر اوسه پوري ېيرنه نـه دي را ګرزيدلي. ترڅو چې دوی بېرته راستنيږي ګـونـدې يا بـه زه مړ او يا به مې لـه دې کې څخه کوم بلې څواته سترګې نهامی کړي وي

پراتګي ومسل اودوارهلاسونه يې پورته وغزول اوخپله ستړيا يې وکښلـه اوپه صاف او لږڅه لوړ زغ يـې ورته وويل :

بې حوصله کيږه مه ! تا پخپله وويل چې به هرحال بايد سړی شکر وکړي دا چې دستي جا ترلاس نه سي نيولی لوپه خبره ده او هو استر نعيمت د ی تهـ يې دلې غم کوې؟

دوې خويندې لرې! ژربه درلوېږي شي اوبنه‌غت ولوربه پرې واخلي!
بيا کولای شي چې په هغوېيسو يو ځه ځمکه رانيسي اوټول عمر په‌هوسايي
بخپله ځمکه تير کړي اوله دغو خواريو او مشالفتو ځخه خلاص شي.

د پرانګي دځنګ سري (لالوان لالا) پر را زغ کړل چې:

سيت دی ، سيت. داسي دوې خويندې مي درلودای‌لکه دی
چې يې لري والله‌که مې بوه شپه هم‌و چه دودی خوړلي وای. زموږ
په شان خونه دی چې دولور ورکولو په مشالفت آخته شوی وي.
اوه ! خدای دې دتوږی هرهد په دوزخ‌کې واچوي-زما او دکوژدې
سره ځه مناسبت؟خو ارسرې اوبرګ‌ېې سبی-اوس دې نه‌پيتی نه‌شوورای
بوې خوا ته مې‌مخه چا ته نه اوړي اونه ولور ورکولای شم اونه بې
پرېښودلی‌شم. ځکه چې‌ټول خلک به مې به لعنت سترګې وکاږي
اوه خه ايــه! ځومره منحوسه ورځ وه چې زما دکوژدې تکان بې
وکړل. زمانه هيريږي چې سپين زيري اکا مې را ته ويل چې‌دا د ښادی
تکان نه د ی بلکه ديو ستر غم درا تلو اعلاميه ده ،ځکه دولور دا دومره
دروند پيتی ځوك پر اوږو اخستلی‌شي . رښتيا چې دده خبره شوه.

بنګ له دغه سري سره دهمدردی اظهار وکړ او دا چې دا
غمونه اودرانــه پيتي ټول زلميان پرغاره وړونکي دي ورته وويل.
بيا بنګ ديويل سړي پــه ځواب کې وويل چې غـوارم زر ولاړ شم

سرباندې دوه گون نوټ پخواني ملاصاحب ته تهول کړو او هغه به هم په دې توگه خوشحاله کوو ' په دغه ترتيب به جنجال خلاصوو.

په محبو حاضرينو کې گونگسي شواو په دغه خبره بې اعتراض وکړ چې دادونه بار نه شو وړ ای ، خو ددې د پاره چې دا اعتراض عموميت پيدانه کړي سمدلاسه د ملك په اشاره‌یو دوه تنه زلميان را وپرزول شول او په دغه نامه چې سپين سترگي دي ، د محصلاولـه خوا بنه وډبول شول او نوروتنبيدل اوپه دې توگه‌هغه تجويز عملی او غنم را غونډ کړی شول . ټول (۵۴ ) منه غنم شول چې د (۲۵) منو غنمو قيمت علاقدار او د(۱۵) منو ( سرکاتب ) او د (۱۴) منو قيمت ملك واخيست . تقريباًدرې نيم‌سوه(۳۵۰) افغانی پخواني‌ملاصاحب ته تولې شوې چې به هغوکې هم ملك خپله برخه وکړه او په دې توگه دا معامله سرته ورسيد لـه اوکلی لـه غمونو څخه خلاص شو .

په دغه ډول دبنگ خوارکي له کالنيوحا صلاتوڅخه يوبل من غنم هم کم شول چې دده او دده دمورپه زړه‌بې تور داغ کښيښود . بنگ له ځان سره فکر وکړچې به هره توگه چې وي بايد زر نرژره له دې کلي څخه پنې وکاږي او بل ځای‌ته شپوه شي . نو لو مړی ملانه ورغی اوورته يې وويل چې ملاصاحب ! زه غوارم چې زر له دعه‌ځای نه لاړشم اوتر بهرلي بورې سترگي پهايی کړم توکه ماته

لیوان ناستدي. هریو دغو دوونجونو ته سترگې ردې نیولې دي چې په څه ډول بې لولپه کړي او درا نده ولورونه پرې وا خلي. زویه ! یو څه له ځان سره پام کوه ! تل پر لاري په یوه کلي کې شپه کوه ، د شپې مزل مه کوه ، کوښښ وکړه چې پر لارې ملگرې مونده کړې ! .آه خدایه ! ته زما دزوی نگهدارشې !

ددې الفاظو په ویلو سره بې مور په ورت ورت وژړل او دواړه نجونې چې نه پوهېدلې چې مور بې څه وایي په ژړا شوې . بنگ د یر کوښښ وکړ چې خپله مور اودواړه خویندې دلاسه کړي اودوی ته داد ورکړي، مور بې په ژړا کې وویل چې خپله نیستي او خواري مې ژړوي. که مو زدسروشپو (ژمي)خوری ( ازوقه) درلودا ی، ولې بېرا څخه د سترگو تور جدا کیده . که موږ یو څه خپل پتې درلود ی نوولې به دا حال وای . ستا پلار نه بېمې تل ویل چې سریه! دهللکدپاره یو څه ځمکه واخله !صبا بېمریبې اوبیا به دې زوی دربه دراو حجره په حجره گرزي! دهنه بوازې ځمکه وانه خیستله، بلکه هغه نیم‌من تخم ریز چې بې درلود، هغه یې هم له لاسه ورکړ- اوس دغه د ی هغه زما خبره شوه . خدا ی خبرد ی چې په کوم مسجد یا په کومه شیله کې بهدې ساوخیزي . اوه لویه خدایه !چې خولې دې راکولې خورزق به دې هم ورسره را کاوه دا څه حال دی ......

بوه گړی وروسته يې موريوې لورته وويل : ورشه هغه دخيرات لړې غوښې چې پاتې شوي دي په کتمې کې واچوه چې ترسهار بورې پخې شي ، هنگه چې څې بايد دلومړی غرمې گوله گی خوترملاوتړې، وروسته تر هغه چې هر څومره لوږې ور باندې راځي ، راځي به خدای دي بې مل شي . سهارشو عادتاً چې مسافر له کوره وځي دکلي سپين ږيري او نور دمسافرخپل خپلوا ن او کهولونه له کلي نه د باندې راوځي او د خدای په امانی د پاره يوه لوېه د له جوړيږي. هر مسافر د قرآن شريف نه لاندې تيروي او بيا هريو د خپلو خپلوانو او نورو حاضر ينو سره دستر گويه اشاره اودسر په کږولودخدا ی په اماني کو ي په دې حال کې دوږو ، ښځو اوسپين ږيرو دژړا ځوږ پورته شي او دفراق اثرات دومره ژور او درانده نه وي ځکه چې هر څوك د خپلو خپلوانو دفراق په درد اخته وي او څوك پخپل غم کې يوازې نه وي. څوله دې کيله چې بنگ ترنورومسافرو دمخه اووختي ځي نو دده دخدای په امانی دپاره غير د ده له مور اودوو خويند و او يوې توری نه بل څوك نه وو راغلي. دبنگ مور داله خپلې بې کسې نه انگيري او له ستر گو يې اوښکې داسې راځوټ کيږي لکه چينه . دخدا ی په امانی مراسم دد ې دخپلې خونې له مخې اجرا کيږ ي تو لې څلور نسجونې اوښځې دي او بنگ يې په منځ کې ولاړدی اوملاتړي.

د برسشي خبره يې ځکه وکړه چې بنګ خوارکی د دوو تيرو شپو سرو سوځولی و او په ډېر تکليف يې په جوماتونو کې شپې تېرا کړې وې. بنګ په دې تېکې ښه پوه و چې نا پيژنندونکو مسافروته په جوماتونوکې ځوك بايد تلشکان ورنه کړي، ځکه چې تل ددې خطر وي چې سهار يې هغه تلشك هم له ځانه سره وړي وي .

دغه ډول واقعات ده پخپل کلي کې هم ليدلي وو.

سبا دپوونده و کډې راغلې او په سرك باندې تېريدلې ، مېښې و سرې ، اوښان اوخره سره ګډ وو. تا روغه سپين سرې ښځې اوسپين ږيري داوښانو په بارو کې سپاره او يا يې ترلي دي. کوچنيان يې هم داوښانو دبارو په سرکې ترلي دي . يوه خورا لويه ځوږه ده : ځوك خاندي ، ځوك ژاړي ، ځينو ښځو اوپسا نجو نو خپلې موچمې پهسرباندې ايښې دي اولوڅې پښې درومې. ځوك اصلاً موچمې نه لري او دپښو چاودې يې له ورايه معلوميږي.

دچا چې بوده ګان درانه وې نو خپل کوچنيان يې په اوږو باندې کښينولي دي اويا يې په تېکري کې پيچلي، اوشاته يې لمبولي دي. ځينو ميندو خپل کوچنيان تيوته لمبولي دي او په عين مزل کې تی ورکوي. داوښانو دغارو دګونګرو شرنګهاردی ـ ځوك وايي: هی هی ځوك وايي هښه ! ملادې ما نه شه د اسپك بارلاشي وراى ! دځينو

که دي خوښه وي له ما سره شه ! زه به دي تر هغه ځايه پورې ساتم . خو په دې شرط چې زه يو اوښيه په کار لرم چې اوښان مې وروسته ترهغه چې کدې واړوي ځرته بيا بېي . او هم به دکډې په بارولو کې راسره مرسته کوي . نو که ته دغه کارته غاړه کېږدې البته زه به دې هم دخپل ورور په شان وګڼم . هغه څه چې موږ يې خورو اويکې څملو تاته به يې هم درکوو.

بنګ خو له خدايه همدا غوښتل او سمدلاسه يې هم سرورته وښوراوه اوهم ژبه او بيا يې سمدستي په جرائت سره يواوښ سوکه په يوه لښته پرورانه ورواهه او کرار يې له ځانه سره دا ورته وويل چې ( هی! هی! ولې نه ځې) .

ديوولسو بوولس نيمو بجو وخت به و چې دپوونده وګلي دچينو په غاړه په اړولو پيل وکړ. دکډواړولو وخت ټولو پوونده و ته خورا خوږ اوپه زړه پورې وي . سمدلاسه ښځو دکيږديو په درولو لاس پورې کړ اوځينو ښځو داوبوژي په سرکيښودل او داوبوراوړلو دپاره چينوته لاړې اوځينو کهې واخيستلې اوپه بوټووهلو يې پيل وکړ.

بنګ هم خپل اوښان چې بارونه يې ورځنې واړول ـ دګټوخواته تيرکړل چې هلته په څوڅانو کې وڅري. دکاله ميرمنې بوڅه ډوډۍ ورکړه چې داوښانو دڅر په وخت کې يې هلته وخوري . بنګ اوښان

او يا بامونه پاکوي. موټران دلمر په ورانگــوکې عجبې شغلې کوي.

ټولــه دلــه دپــرونده وخان تــه معطلــه ده، په هغه ښې ښې سرې ليږلي دی چې ژرراشي اوددغو جنجالي معاملو په فيصله کولو کې مرسته وکړي. دغو نه وچې خان صاحب راغی او ټول ورته ولاړ شول. خان دسوداگرو سره پهلاس روغبړ وکړاو دحاجي آغا په بلنه د حاجي آغا پهڅنگ کې کښيناست. په داسې حال کې چې خان صاحب ديوه ليرې غره په څوکه کې سترگې ښخې کړې وې په خپلو بريتو يې ورو ورو گوتې وهلې . حاجي آغا لومړی په ټوخې پيل وکړاو بيا يې وويل چې:

تاسو حاضر و کسانو تــه پوونده ووايم، کوچيان ووايم، مسلمانان ووايم او يا بل څــه هرڅه نوم چې تاسې خوښوئ پههغه بهموبولم. گورئ ! کــوم وخت چې مولــه لوږ ې پرنس درد وي ، کــوم وخــت چې مو کوچنی اولوی لوڅې خپټې شي او يا موپــه گډلو کې د سپږو رمې بهيږي، هغه وخت نور واشـئ او پرور يو بـاندې دپيشکيو روپو مطالبه کوئ، دخپلې ښــې معاملې دپاره قسمونه اوقرآنونه خورئ ، ترقسمونو لاندې شئ، طلاقونه اچوئ، خوچې زموږ دسودا گرو زړهدرباندې وسوزي اوپه وريو پيسې درکړو ، کار مو دروچلــو و او ستــرگې مو

مري به مو بـې کفنه ښخ وي . کـه تاسـو لـه موږ سوداگـرو سـره ښه معامله ونـه کړئ اوخپل حق ترڅان را ورانـدې نه‌کړئ ، نـو تاسو پخپلـه فکر وکړئ چې موږ به خپل ملـك ته دا دومره ښگينې او مرستې په څه ډول رسوو.

ملـك يا خان صاحب چې تر اوسه پورې خورا پته خوله ناست و او په يوه لاس بې (٣٣) دانې ژيړې تسبې اړولې چې خسر بې له مکې شريفې نه ورته راوړې وې او بل لاس يې په‌بريتو اوږ يره‌باندې واهه او دسوداگروخبرو، نصيحتو اوتهديدونو ته‌يې غوږ نيولی و- په‌داسې حال کې چې پـه دوارو زنگنو نوبې دواړه لاسونه را گـرڅولي وو او چې کلـه نا کله به يې دشاو خوا ته زور او لنگروکړنو پښې به يې لـه څمکې څخه‌لږ څه جگې‌شوې ، وويل چې:

پووندە خو دومره ( خوږلـې شومه) هم نه دي . چې هرڅوك به پرې تيری کوي. دزور او سوټې خبرې بايد يوې خوا ته کښېږدو. دا دپووندە وکلی خـو زمااساميان‌دي. زه به په هـره توگـه او کـره چې وي لـه دوی څخه‌مدافعه وکرم. که مې ملاوترله او قـصد مې وکړ ترکابلـه پور ې به يې درسره ووهم. داسې ترموږهم‌گومان مه لروئ.

بويل سپين ږيرې پووندە دملـك خبره پسې تائيد کره او وې ويل : موږ به تولـه معنی به خان صاحب پسې ولاړ يو. پووندە به البته خواروي

مگر بې غیرته خوالله کېږي ـ هم‌دستونې زور لرواوهم د (کوټې) موږ په هیڅ وجه حاضر نه یو چې تاسو ته تردې زیاتې وړی درکړو. ستاسو دپیسو زیاتره برخه مو دوړیو په مقابل کې‌در ادا کړه ،اوس ممکنه‌نه‌ده‌چې‌دباتې‌جزیې پیسویه‌عوض کې‌هم‌وړی در کړومځکه چې وړی نه‌لرو او پخوامولاخرڅې کړې‌دي. هرې خواته‌مو چې بیا یاست حاضریو ،کم‌وبندیانوئ هم څه پکې‌نه‌وا یو ،خووړی نشو درکولای

نورو هغو پوونده وچې هلته حاضر وو هم ددغه سپین زیري خبره په یوه خوله تائید کړه. او دا چې وړی نشي ور کولای په ټینګه اوپه یوه آواز بې وویل: دخان صاحب خبره ددې دلې له خوا هم بې غبرګه شوه اوخپله کامله مرسته بې له‌ده سره څرګنده کړه.

په دې حال کې حاجي آغا دولاړیدو هڅه او اراده وکړه چې دده پیش خدمت له‌اوږو څخه ونیو اوولاړ بې کړ، نورو خلکو غوښتل چې له ده سره ولاړ شي خوده دخپل لاس په اشاره‌تول په‌ځا ی کښینول خو حوالدار دتیارسئ په حال کې ودرید او دحاجي آغا خوا ته‌بې په څیر څیر کتل او دا سې وضعیت‌بې اختیار کړچې‌نه به وابې دحاجي آغا په اشاره به اوس دغه‌تول حاضرین په رسی وتړي او بـــه وهلو به بې پیل وکړي.

زمانه دا خبرې تر حد تیرې نه گڼي او بوحقیقت بې بولي.
- په دې حال کې دماشینانوعمومي نگران راغی او ماشینکار ته بې وویل :
- ستا شاگرد بنگ نومیږي؟
- هو صاحبه !
- ته خبر یې که نه چې د ....... صاحب په کوز کې صرف درې ته پیش خدمتان دي - نو ر گرده ځنې تلي دي. هغه ورځ چې دلته پر ماشینانو گرځیدی - دغه‌بنگ یو‌ښه او فعال‌هلک په نظر ورغلی دی او غواړي‌چې هغه او دوه کسه نور دده کره ورواستومه چې هلته کار وکړي ځکه .... صاحب‌هو شکر دی دلوی نامه خاوند دی او لوی وکوچنی شاه وگدا دده په سراچه کې تل ناست وي او له‌خوبه خوري او له خوبه ځبني، هرماښام بې لس دولس غوري دودی مهمان خانې ته راځي ، والله که غوږ په غوږ خبر یږي چې‌دا دودی څرنگه دلته پخیږي او څرنگه دلته راځي.
- ښه دی پخپله بنگ ته ووایه ! که‌دده خوښه وي زما خوښه ده ، هرچیرې چې دی آرام وي زه آرام یم. فقط دومره خبره ده چې زما خواری نو گواکې عبث شوې ، ځکه چې دی ما په ډېر زحمت یوځه روزلی و او دومره اعتبار مې په و. چې حدنه‌لري . اوس به

دی ورکری ـ خوراز ړه ورشواو خپلې خبرې یې دغسې پسې اوږدې کړې :

زمانبه معامله په ټول دیارکښې هرچاته ښکاره ده، زه خوداسې نه کوم لکه دانور: هغوی چې کوم وخت یو ډیرارسری مونده کړي اوهغه دبوډه لوړې گټې ورکولو وعده ورسره وکړي، نوکه یې پیسې په صندوق کې تیارې نه درلودې ، نو سمدلاسه هغه پورورې ته چې موده یې پوره شوې وي ورشي او دسوتهې په زور پیسې په جوړې کړي . کههغو پیسې نه درلودې دغولې تغریبې راټول کړي او یابې لوغزه ځنې بوزي اوکمکیان یې وج حلق په ډگر پریږدي او هم له کوره یې هیڅ خیر هیچاته نه وروځي. په بله ژبه سپې یې ترکوره په غپ تیر بزي. مگر زه تل دبابا فقیر تر ښه کوم . په میاشت کې بوه پیلا اویا دوې پلاماجت ته غړې راوړم، مسافر ته شلومبې او ډوډی ورکوم. لنډه دا چې کـه لـه تاسې څخه گټه کوم، یوڅه پرتاسې بیرته خرڅوم داسې نه کوم لکه دا نور چې پنځه واره گوتې په خوله منډي.

مقصد ـ دې سوایې خواره په دې کښتوو پورته اوپه دې لنډو اوږدو دبنگ دمور له گوتو درې نیم سوه افغانی ټولې واخیستلې اوبیایې دپنځوسو(۵۰) نورو افغانیو پوښتنه ځنې وکړه. هغې ورته وویل: دملك هم تل غړومبې وي او وابې چې دومره روپۍ یې

دلوبهو غونډې سوابي خواره خورې . پلارمې د دوی لهلاسه زاره ترقی‌شو. نه مې هیریږي کوم وخت چې بې زما په ولور کې ځوېښونه او دوې غواوې راوستلې - چا چې دغه مال ر اوستلی و هغه لاپر دو دې ناست و چې بیا سوابي خواره له هرې خوا لکه مچان په انګړ ر اکښیوتل اوبوه پسه زغلاوه او بل غوا - او په خپلو منځو کې بې لکه دسپو غونډې سره خوړل . پلار مې ددې حال په لیدلو بومونهی خاورې شو او هم دې چې ده ته هیڅ په لاس ورنغلل او وور عیال بې ورته وږی و، خوړا ناوره اغیزه پر وکړه او خوارکی فقط درې شپې ناروغه و او په بوه عالم ارمان کې بې بور پریکړ اوبلې دنیا ته ولاړ ...... دځنکدن په وخت کې بې دا ویل : زمامظلمه‌دسوابي خورو په غاره ده. ترڅو چې موس کیږي له دې خلکوسره به کلکه مبارزه وکړئ . زموږ طالع دې خاورې شي چې بیا ستاسې په بې‌رحمه ګوتو کښیوتو.

په کوڅه‌کې ځوږه‌جوړه ده.دازغ دبنګ دمور ترغوږ شو چې ویل بې: (ما اوس دستي ولیدله‌چې په دغه کور ننوتله ) سمدلاسه هغه بل سوابي خور په انګررا کښیوت او په داسې حال کې چې له قهره‌سوراوشین کیده‌دبنګ‌په‌موربانډې‌بې داسې کریږه‌وروکره‌چې‌هغه خوارکی‌پرځای‌باندې‌هینبه‌شوه‌اولکه دلرګي غونډې‌وچه کلکه شوه .

ددې سپین سرې خوار کې زبون ووهل شو، په تیره بیا هغه وخت چې خپله لور یې هم له سوابي خواره سره په داسې حال کې ولیدله چې هغه ترمړوند نیولې وه او له کوره یې راکش کړې وه، ځچې درځه! موردې را وښیه ! چې زما حق را کړي. دنجلۍ خوار کې رنگ هم الوتی و او لکه سپین کاغذ غوندې شوې وه. په کوڅه کې نور واره هم یې راټول شوي وو چې چا خندل اوچاژړل.

- بلادې پر دغه بداوکوي تکولي مخ شه! پر بزده دا تنکۍ نجلۍ چې نژدې ده له بیرې یې ساوخیژي. خوپوربه دې پر باندې وي وینه خوبه دې نه وې پر باندې ؟

هغه بل سوابي خواره دا پور ته جملې په خورا تهدید کړې زغ ورته کړې، چې هغوی دبنگ په مور باندې سانه ایستله او دې ته یې داجرأت ورکړ چې ورولاړه شي او خپله لور ترمټ ځنې راکش کړي او بخپل تېر پورې یې ونیسي او پر بار خوباندې یې ښکل کړي .

دبنگ مور دواره سوابي خواره یو ځای مخاطب کړل او ورته وې ویل : زوی خومې هم دغه پیسې را لیږلې وې. اوس تاسې سره پوې جوړشئ چې کوم یو یې اخلئ او یا یې سمې نیمایي کړئ . لومړي سوابي خواره لږ څه په قهر دبنگ مور ته مخ راستون کړ او ورته وې ویل :

دبنگ‌مور خوارکی دپسرلي لوزه او حتی خو استفوالی ددې سوابې خواره پربرگو سترگو اوله پرله پسې اصرارونوماو لرگیو تکولو ښه وبلل او ورغله ، له خپلې غوټې څخه یې هغه پنځوس (۵۰) افغانی هم ورته راوړې او سوابې خواره ته یې خوله کښې ورواچولې. سوابې خواره چې هر څومره پرله واړوله ، خوبل یوغران نه شو پـه جوړ. بیا یې یـو ښه غټ چرگ چې مور اولونو دې ته ساتلی و چې کوم وخت ښنگ له مسافری راشې نوپه لومړی شپه به یې ورحلالوي ـ ونیو او په تخرگ کې یې تینگ ونیوه.

ـ ښه ده نو دا چرگ خوالله که درپریږدم! تا چې تولې روپۍ هغه بل ته ورکړې نو دادې جزا ده چې دغه چرگ به درڅخه وړم او نن شپه به میلـه باندې کوم.

* * *

دبنگ ژیرمخ، بې نوره سترگې او ډنگره ښه‌ښه خورا ښکلې واوښتلـه . دده مخ اوس په وینه شو، دا ځکـه چې په نس مورشواو هره ورځ یې خورا ښه تیریدلـه، ماښام بـه هم تـود پروت و. دی په کور ډیر پریشانه دی او تل دهغه چرت وهي. په تیره‌چې اوس پسرلی هم بیخي را نژدې شو، دبنگ په زړه کې د مور اوخویندو دلیدلـو هوس‌خورا ډیر یږي.خپل پخوانی‌ملگری‌دوران کله کله وینې.

دخدا ی په امانـي وکړه او بیا را غـی لـه دوران او دهغه دورورسره بې ولیدل .

دوران ورته وویل :

ستایې په‌مخه ښه ! موږ دلته په یوه‌ښه ګته اوښتي یو. داسې ګټې او فرصتونه کلـه کلـه سړي ته په لاس ورځـي . نوموږ نه غوارو چې دا دسروزرو موقع لـه لاسه وباسو اوکوږ ته ولاړ شو - تـرڅـو چې را چلېږي نو دا ترتیب به چلـوو ، خوکوم وخت چې را باندې‌تېه تېغره شوه البته موږ به هم دخپل تګ دپاره ځان چمتو کړو.

* * *

بنګ په ډېره خوښی کډو ته راغی‌او دکانـي لـه کالـه سره یې روغبړ وکړ. هریوه دبنګ په راتګ خوشحالـي وکړه. دکا نني کا لـه په مني‌لایو او ښبه نـیولـی و اوهغه ترا وسه پورې ورسره د ی نودبنګ کار دښځو او نجونوسره د«او لـه »په شړلو کـې مرسته وه.

شنو رغو ، ښکلیو بید یا ګـانو چې په تنکیو وښو پټ‌دي‌اودهـر لیدونکـي زړه لـه ورایه وړي په بنګ کـې یوه خوراژوره خوښي ایجاد کړه. په تیره بیا پر شینکـي ښکلـي آسمان باندې داوروسپین‌تکران چې ځینې برخـې یـې سوروبره اوښتي‌دي او تـا بـه ویل دپیغلـې نجلی بارخوګان دي.

پهلاس کښې چمتو ولاړې وي او کله کله دورې مندې وهي چې ورې دمیزو درمې له خوا ـ را وګرځوي اوکله دورې حورا ډېره ځوزه وي. په تیره بیا هغه وخت دلیدو او تماشې وي چې شپون اشاره ورکړي چې ورې را خوشې کړئ !. ورې له یوې خوا مندې وروهي او میندې بې له دابلې خوا په «ریاه»را زغلي ترڅو چې ( اوله )په رمې کښې توی شي. نژدې تر پنځلسو دقیقو پورې ورې خپلې خپلې میندې نه شي موندلای اوهر وری کله تر یوې میږې لاندې شي چې هغه بې بوی کړي چې بې خپل وي نو پرې ودریږي او که بې خپل نه وي نو بې په سر ووهي او دا عمل خورا ډېر ځلې تکراریږي.

په دې موسم کښې پوونده لوی لوی مزلونه نه کوي، ځکه چې ورې یې تنکي وي. بنګث هم خورا خوشحا له د ی چې دخپل کور په خواروان د ی او ژر بهخپلهمور اوخوېندې ووېنيد ی په دې شپو کښې خپل کهول تل په خوب وېني.

ددغې ورځې پهمازیګر لږڅهفعالیت نورهم ډېرشو. کاښې بنګثنه ووېل چې پهمنې اودوبې دسوداګرومرکې اولانجې وي، پهلومړي پسرلي دچلیك والاغمونه وي. دازموږ لومړی تابې دی چې چلیك پریکوو.

دکاښې دکیږدۍ له څنګه سره بې چلیك والاو ته ځای پریوه غونډۍ باندې ورجوړکړی د ی . د دروکسو محصلانو غمجېنې

خپله ستړیا وپوهیږي ، ګوري چې وږې اومرغومې یې ستړي کړل شپه یې په یوه کلي کې وکړه او سبا ځانښت خپل کلي ته ورغی .

دکلي ځینو کوچنیانو ولید او په منډه ځینې بنګ ته را غلل او ځینو دبنګ دکور خوا ته منډه کړه چې دده پرمور باندې زیری وکړي یوه کوچنې بنګ ته وویل :

زیري مې درباندې تا ته خوښې په مخې کوزده درکړې ده .

* * *

بل کال په مني بیا بنګ دخواری دپاره کندهار ته رهي شو .

دا ځل دډیرو خلکو او ډیرو شیانوسره بلد او په موټر کې هلته ورسید . دده زړه دکارکوونکو اینبند و نکي ژوند وړی و او د خلیفه میرجان خبرې او کړه وړه یې په زړه کې نیغ ناست وو .

کوم وخت چې کندهار ته ورسید ، نوسمدلاسه دوړ یو فابریکې ته ورغی او خپل پخوانې اندیوالان یې مونده کړل . ځنګه چې تیرکال یې زیار ایستلی و او خوراکوښښ یې کړی و ، نوځکه دده سواد ښه شوی دی او هر ډول کتابونه لوستلای شي .

ده له خپلو پخوانواندیوالانو سره په پراخه آندازه خبرې اترې شروع کړې ، خویه دې چې دده دپخوا نیو اندیوالانو معلومات ډیر شوي دي او ددوی طبقاتي شعور وده کړې ده ـ حیران شو .

